په افغانستان کی دناټو روزنیز ماموریت

# اوړه په اوړه




NTM-A
NATO Training Mission
AFGHANISTAN

د ۲۰۱۲ کال د اګست دمیاشتی شپږمه ګڼه




پدی گنه کی | مخ

په کابل کی دماشومانو روغتون سره په داوطلبانه توگه مرسته وشول ٣
د افغان ملی اردو ځانګړی عملیاتو قوماندانی د بریدملانو لمړی هوایی ځانګړی ماموریت وپیژندل شول. ٤
افغان استادان ملی پوځ ته دانگلیسی ژبی روزنه ورکوی ٥
دافغان پیلوټانو لپاره په لومړی ځل د روزنیز چاری پیلیدل ٧
د عامه تاسیساتو ساتنی او د امنیتی تصدی معنیت د افغان نوی ساتونکې دی ٩
د افغانستان په لویدیځ کې د ایساف سیمه ییزه قوماندانی ١٠

قوماندانی

په افغانستان کی دناټورزنیز ماموریت | عمومی قوماندان | ډگرجنرال ډانیل بولجر
په افغانستان کی دناټورزنیز ماموریت | سرپرکمشرقدمدار | جفری هاف
په افغانستان کی دناټورزنیز ماموریت | قوماندانی داړیکو مسئول | ډگرمن ټیم سټافر

دطرحی او دیزان مدیر | پیتی آفسر شان وییر
د مجلی ډیزاین او ایډیت | عادله اشرفی »

دمجلی ژباړونکی: په افغانستان کی دناټو روزنیزماموریت او د افغانستان امنیت لیږدونی لپاره د گډی قوماندانی دعامه
اړیکو د فتر عادله اشرفی

انځور:تورن شهنواز نبی زاده د لوډماسټرپه توگه دکابل په نړیوال هوایی ډگرکې ددندی ترسره کولو پرمهال چی د جولایی په نورلسمه نیټه دیو ساعت مسلکی پروازونه ترسره کړل(انځوراخیستونکې تورن اجنیتا مورنن)

باندنی انځور: دوه نظامی الوتکی د پارک کیدل پرمهال د کابل په نړیوال هوایی ډگر کی د لومړی ځل لپاره د خپلواک په توگه پرته د ایتلافی ځواکونو همکاری څخه ترسره کړل(انځوراخیستونکې تورن اجنیتا مورنن)

انځور:تورن شهنواز نبی زاده د لوډماسټرپه توگه دکابل په نړیوال هوایی ډگرکې ددندی ترسره کولو پرمهال چی د جولایی په نورلسمه نیټه دیو ساعت مسلکی پروازونو لپاره تیاری نیسی (انځوراخیستونکې تورن اجنیتا مورنن)




# دافغانستان ساتونکي

راپور: په افغانستان کی د ناټو روزنیز ماموریت اودافغانستان دامنیت لیږدونی لپاره
دګډی قومانوانی عمومی قوماندان ډګرجنرال دانیل بولجر

دافغان ځوان نارینه او همدا ډول ښځینه دافغان ملی امنیتی پوځ کی ولی شاملیدل غواړی؟دټولو۳۴ ولایتوجذبولومرکزنو کی مشران د هرهغه ځانګړی کس څخه بوښتنه کوی څوک چی نوم لیکنه کوی-ځوابوني ثبت او په دوسیه کی کیښودل کیږی.هغه ځوابونه مونږ ته د افغان د ځوانانو په اړه ډ یره مهمه مالومات ورکوی-

لومړی دلیل یوه غوره دلیل ده: دخپل هیواد څخه دفاع کول, دوهم دلیل دکورنیو تشویقول,لوستل او زده کول , تاکتیکی مهارتونه او د هیواد نوری سیمی کتل ددوی لپاره برابره وی- نوی جذب شوی کسان د ستونځو لکه اور او ابو سره په زړه ورتوب سره مبارزه کوی –په بشپړه توګه کی د ټولو افغانانوهیله دا دی چی دخپل افغان هیواد والو څخه ملاتړ وکړی.

دافغان سرتیری,هوایی ځواک یا دګزمی پولیس کیدل څه آسانه خبره نه ده- ډیرپوځیان دخپل کور څخه لری خپل دنده ترسره کوی.د یونیفورم پولیس په استثنا چی هغوی عموماً په محلی ولسوالی کی دنده ترسره کوی,نوری دندی په ملي مرکزونو کی نوی جذب شوی پولیس سرته رسوی.دنورستان دغرنووسیدونکی وګړی دسپین بولدک سره نژدی په اواری اوشګو کی وسیږي- هغوی چی دهرات د نږدی وچ لویدیځ سیمو او دغرونو وسیدونکی دی هغوی دجلاآباد سره نږدی شنه ځایونو او دغرنو لمنوته ځی- دافغان قطعی د سیمه ییزو او دقومي غړو څخه ګډ جوړشوی دي-زمونږد افغانان ځوانان په دی وږدلارو کی دخپل پلار او نیکه ځای یی د خپل هیواد والی دساتنی لپاره پریښی دی – کوم ځای کی چی دوی لوی شوی وو د هغوی لپاره دایوه ډیره عجیبه نړی ده. دروزنیز په دیسپلن , عملیاتی مبارزه او همدا ډول د کورنیو استونځو په توګه د قطعاتو جوړولو کی تروسه پوری یو څه ناڅه ستونځی شته- د مبارزه کولو لپاره افغانان دخپل قوت اومحدودیتونو په اړه د نورو په څنګ کې زده کړی کوی.

د ۲۰۰۹ میلادی کال څخه راهسی د افغان ملي پوځ د زیاتیدوله کبله, طالبان او د هغوی سره تړلی شوی غړی له مینځه وړی دي.دتیروڅوکالو راهسی تقریباً۱۲۰،۰۰۰ کسان د هوای خواکونو, نظامی او دملي امنیتی پوځیان جذب شوی دی- دښمنان فکر کول چی دوی د دی شمیر اداره کولی نه شی او ددوی دلګی مخالفانوته نږدی دی او ددوی دنده به ډیر ژرپای ته ورسوو-

د مبارزه کولو لپاره د افغان قواه ته له هرکورنی څخه راځی- دخپل هیواد او دخپل ځان حفاظت لپاره افغان ځوانان ډیرځیار باسی –دوی د خپل موروپلار,واړه خوریانو , وروڼو دعاګانی اود قومي مشرانو په خوښه دندی ته راوځی . هر افغان په خپله خوښه دعسکری کالی (یونیفورم) اغوندی او کله چی هغوی د خپل اجداد د قلات وږدی لاری نه هلته ورسیدل روزنه د هغوی لپاره ډیرګټورووو.هغوی خپل دنده ترسره کول. په یونیفورم کی د خپل ښی او چپ طرف ته کتل کول او د محلی افغانانو ساتنه کوول, سمیه ایز خلک ژغوری او د دښمن سره مبارزه کوی. د ژمی په ساړه او وږدو شپو کی د هندوکش غرنو باندی او د ګرمی په سخت ګرمی کی د راجستان په وچو دښتو او ریکستان کی دافغان ځواکونه ګزمه کوی او دخپل هیواد او هیواد والو ساتنه کوی-

دغه اقدامونه په ډیر تریخ بیه پریوځی . په نژدی کالو کی که چیری مونږدټولو هیوادونو ایتلاف ځواکونه یوځای کړو د هغوی ټولوڅخه زیات زمونږ افغان همکاران ډیر شهیدان او ډیرټپیان یی وزغمل. اوس د دی خطراتو په پوهیدلو سره دافغان ځوانان ملی اردو کې شامیلیږی او دښمنانو سره مبارزه کوی. دوی د افغانستان رښتونی او اصلی ساتونکي دي.

اوږه په اوږه مجله دامریکاد دفاع وزارت اودافغانستان امنیت لیږدونی دګډی قوماندانی خپرونه ده. دغه خپرونه په افغانستان کی دناټو روزنیز ماموریت دعامه اړیکو دفتر چی په کابل کی دایګرز په کمپ کی موقعت لری خپریږی. د امریکاد دفاع وزارت د۵۱۲۰،۴لارښوونی مطابق دغه مجله دامریکادمتحده ایالاتو پوځیانو لپاره چی دامریکا څخه دباندی میشت دی قانونی خپرونه ده. دیادی مجلی محتویات دامریکاد دولت لخوا په قطعی توګه نه دی منظور شوی .

دچټک ځواب په موخه، د برقی بارکوډ نمبر ۲- ډی دی د موبایل له لاری تاسی کولای شی چی سکن یی کړی او کولای شی چی د لا زیاتو معلوماتو او په ژوندی بڼه محتویات وګوری

# د افغان ملی اردو ځانګړی عملیاتو قوماندانی د بریدملانو لمړی هوایی ځانګړی ماموریت وپیژندل شول.

راپور د عامه اړیکو کار پوه: ایریک لاکود

کابل – د افغان ملی اردو ځانګړی علمیات رسمی توګه د بورد غونډی لخواه لمړنی بریدملانو ځانګړی هوایی ماموریت وپیژندل شول.

هغه کاندیدان چه د هوای ځانګړی علمیاتو بریدملان رهبر په ټوګه کار کوی لمړی باید خپل ټول معلومات واستوی د مشورتی بورډ په ورځ د ملی اردو اووه افسرانو څخه څلورافسران وټاکل شول، چی د لوړ چارواکو لخواه ١٢ مختلف پوښتنی د تکتیکونو او د کمپیوټری مهارتونو چی د ملی اردو لمړنی تجربو څخه ګنل کیږی سوال او ځواب وشو.

دا مدیره پلاوی د دی موقف ټاکلو لپاره ډیر مهم دی، ځکه چی دا لومړی ځل د افغان ملی اردو رهبریت په خاص توګه  د هوای ځانګړی عملیاتو بریدملانو لپاره دي.

د ناټو روزنیز ماموریت د یوه غړی په وینا دا رسمی مرحله شاوخوا ٢ ساعتوکې ترسره شوه، دا ټول د تیرشوی میاشتو چمتووالی نتیجه دی دا هغه مرحله ووه چی مونږ په امریکا کی هم تر سره کول دا هغه کار ووه چی باید ځیرنه کیدل چی زه  شخصاً ډیر خوشحال یم.
په دی ورستیوی کې د افغان نورو ځانګړی بریدملانو قوماندان ټاکنی هم د مخکی مراحل په شان تر سره شول دواړومرحلی یو شان وو خو مختلفه توګه

کله چی دا بورد جوړ شول ټول غړی د افغانانو لخواه وټاکل شول، چارواکی او مشاورین د دی روند لپاره چی څنګه تر سره شول ځیړنی یی وکړل. د دی ټاکنی پر مهال مشاورین هیڅ مداخله ونکړل خو څو تن مشاورین په کانفرانس کی موجود وو.

د جنرال کریمی په وینا د ټاکنه دا پایله  ډیر ښه ګام وو او په راتلونکې کې هم باید د ځانګړی بریدملانو قوماندان ټاکنی لپاره ډیر ښه سیستم دی.

د فیض وفا په وینا د بورد پلاوی پرته ما هم د ټول کاندیدانو سره خبری اتری وکړل او مطمین یم چه دوی ټول د دی دنده ظرفیت لری چی د بریدملانو رهبریت وکړی. او د نورو ځانګړی بریدملانو قوماندانی ماموریت ته ښه سلا مشوری ورکړی.

وفا وویل زه مطمین یم کوم غړی چی ټاکل شوی دی خپل دنده په ښه ټوګه ترسره کوی.
دغه څلور کاندیدان اوس د کندک ځانګړی بریدملانو قوماندانی په ټوګه دنده ترسره کوی او خپل خاص تجربو او مهارتونو څخه په هر شرایطو کې  د راتلونکی لپاره ښه نتیجه ترلاسه کوی.



روان کال جولای  ٢١ نیټه د بورد مدیرپلاوی د لمړنی بریدملانو ځانګړی هوای قوماندانی کاندیدان سره مرکه درلود.

# په کابل کی دماشومانو روغتون سره په داوطلبانه توګه مرسته وشول

راپور :هوانورد کالی کاواسکی,په افغانستان کی د ناټو روزنیزماموریت دعامه اړیکودفتر

کابل- د اګسټ ۹ نیټه د ۲۰۱۲ میلادی کال کی۴۴ کسان په داوطلبانه توګه داندرا ګاندهی روغتون سره د مرستی لپاره ونډه واخیستل-
د۱۲۰۰ ډالر څخه زیاتی پیسی, د پاک کاری سامانونه, په سلګونو د ماشومانودمکتب سامانونه,جامی اود لوبوشیان روغتون سره مرسته وشول-
د داوطلبانه پروګرام د تولنی اړیکو دایرکتر,ضابط جیکلن حیل وویل :دا پیسی د کمپ ایګرز دشخصی پانګه څخه لیږدل شوی وو – مګرجامی ,د لوبی شیان اود مکتب سامانونه د امریکا څخه زمونږ دوستان او زمونږکورنی مرسته کړی وو او دلته په کمپ ایګرز کی دقراردادیانو له خوا نه هم مرسته شوی وو.
دغه روغتون د ۳۵۰ بستریز تجهیزاتو سره مجهز شوی وو او د , این آی سی یو ,یو د ساری ناروغی برخه او اضطراری خونی سره هم چمتو شوی وو- په دی روغتون کی دډیرو ناروغه ماشومان موریان دهغوی په خوا کی نږدی ناست وو.
هغه وویل:یو شی چی زمونږ لپاره د منلو وړ وو- هغه دا وو چی د ټولو ماشومانوموریان چی د خپل ماشومانو په څنګ کی وو هغوی د خوراکی توکو او نور شیانو په وړل کی د ډاکټرانو او نرسانوسره مرسته کولو- هیل وویل: زه ددی په پوهیدو سره ډیر ښه احساس لرم چی روغتون او د روغتون پرسونل څه چی لری او څومره چی کولی شي ,خپل ښه کوښښ کوی او دا یوڅرګنده اود ارزښت منده مرستی دلیل کیدای شی-
دپاک کاری سامانونه دروغتون ټول صفایی کولو او د لوبی شیان د ماشومانو زړه خوشحالولو کی به مرسته کوی، په افغانستان کی د ناټو روزنیزماموریت دعامه اړیکودفتر, تورن توری شیټلزورت وویل: راتلونکی ژمی کی دبافت خولی ګانی او کمبلونه د ګرم ساتلو لپاره مرسته کولی شی -
د هیل په وینا , دا دماشومانو روغتون ته لومړی ګام وو مګر دا یومهم دلیل دی , وی. سی. آرموسسی خپل مرستی دی روغتون سره ادامه ورکوی-
هیل زیاته کړل: چی په ایمانداری سره, روغتون ته تلل او هلته خپل ملاتړښودل , د ماشومانو اوموریان سره وخت تیرول او هغوی سره مرسته کول خپل ځان ته یو غټ مرسته ده.
شیټلزورټ وویل :زه غواړم چی ددی ګروپ غړو ته ټینګار وکړم چی د خپل هیواداستازي توپ سره په دی دنده کی مرسته کړی دی. خلک د جنګونو د هیرولو هڅه کوی, چی همدا ډول افغان خلک هم د یاغیانو قربانی شوی دی. دافغان خلک دی تیرو لس کاله جنګونو کی د ظالم دښمن د لاسه ډیروستونځو او ځیان سره مخامخ شویدی.مونږ دلته دافغانانو دمرستی لپاره راغلی یاستو چی افغان خلک یاغیانوته ماتی ورکړي . زمونږ څخه چی کوم مرستی کیږی هغه مونږ د افغان ټولنی او دافغانستان د دولت سره کوو.





پورته انځور: په افغانستان کی د ناټو روزنیز ماموریت دوطلبان د اندر اګاندی روغتون لپاره مرسته ښکته کولو پرمهال.

لاندنی انځور: یوه بیمار ماشوم د اندارګاندی روغتون کی په افغانستان کی د ناټو روزنیز مامورت دوطلبانو لخواه لوبتکه ترلاسه کړل



په کابل نظامی روزنیز مرکز کی د افغان ملی اردو د انگلیسی ژبی اوولسم دوره فارغ شول. هغه سرتیری چه د هیواد په بیلابیل ځایونو څخه ټول شوی وو خپل شانس د انگلیسی ژبه کورس کی چه د ۸ میاشت لپاره ترسره کیدل حاضر شول.




فارغ شوی زدکونکی د ډله ایز انځور اخیستل لپاره یوځای شول هغوی د اوولسم دوره فارغین دی چی د کابل نظامی روزنیز مرکز کی چی د ټول هیواد سرتیری له دی ځای څخه د انگلیسی ژبه زده کوی

# افغان استادان ملی پوځ ته دانگلیسی ژبی روزنه ورکوی

راپور :هوانورد کالی کاواسکی,

په افغانستان کی د ناټو روزنیزماموریت دعامه اړیکودفتر -
کابل , افغانستان — - د اگست لومړی نیټه په ۲۰۱۲میلادی کال کی د ناټو روزنیزماموریت د انگلیسی ژبی روزنه دکابل په نظامی روزنیزمرکزکې فارغانو لپاره د تلل نه وړاندی دامریکایی مشاورانو لخوا یو مراسم تر سره شول.

بلال استانکزی د انگلیسی زبی استاد د کابل په نظامی روزنیزمرکزکی وویل :دټولونه وړاندی زه د خپل امریکایی استادانوڅخه مننه کوم چی دوی مونږسره مرسته اوپه روزنه کی زمونږ سره ملاتروکړل او شاگردانوته هم روزنه وښودل- نن د لیږدنی ورځ ؤو- کورس دامریکایی استادانوڅخه افغانی استادانوته وسپارل شو- زه ډیرخوشحاله یم چی اوس ،دافغانستان خلک کولی شي چي د بهرنیانودمرستی څخه پرته پخپله روزنه ورکړی او د ملاتړ او مرستی څخه پرته خپل دنده ترسره کړی -

شاپور پیمان ,د انگلیسی ژبی استاد وویل: زه ډیرخوشحال یم چی دانگلیسی ژبی استاد یم اوپه هرځای کی زه روزنه ورکوم- دا زما مسلک دی او زه خپل دنده خوښوم- زه غواړم چی د خپل خلکولپاره خپل دنده ترسره کړم-

دکابل په نظامی روزنیزمرکزکې د انگلیسی ژبی اداره په ۲۰۰۳ میلادی کال کی پیل شو اوله هغی څخه ورسته په ټول افغانستان کی۵۸۰ غړی دافغان ملی پوځ د اته میاشتنی کورسونو څخه فارغ شویدي- د کامیابی لپاره شاگردن باید لږ تر لږه ۵۵ نمبرواخلي-

سوزیت نلسن وویل: چي دکابل په نظامی روزنیز مرکز کی د انگلیسی ژبی روزنی کی ۵۵ نمره اخیستل ډیرگران دی-دی فکر سره چی څومره لغاتونه په انگلیسی ژبه کی دی او خپل نظرونه په انگلیسی ژبی کی بیان کړی او د انگلیسی ژبی لغاتونه استعمال کړی- د دوی په مینځ کی ډیرکسان هم شته چی له انگلیسی ژبی اشنایی نه لری - دوی اړتیالری چی په ۸ میاشتو کی ددی وړشی چی ۵۰ فیصده یا جیگ نمره ترلاسه کړی او دخپل مورنی ژبی په شان خبری وکړی-

ددی په ترڅ کی هلته قراردادی استادان هم وو چی هغوی د کورس په وخت کی افغان ملی پوځ افسرانو سره په روزنه ورکولو کی هم مرسته کول- د افغان استادانو ته په کاردی چی کورسونو کی روزنه ورکړی او په انگلیسی ژبه کی مهارت ولری- باید داثابته کړی چی دوی آنگلیسی ژبه کی غړیدی شی-

نلسن وویل: پنځه قراردادی استادان هم شته. یوڅوافسران د افغان ملی پوځ څخه وو چی هغوی هم د اخری کورس په وخت کی په درس ورکولو کی مرسته کولي -مونږ سره د دفینس انگلیسی موسسی څخه دري امریکایی مشاورین هم کار کولو-

نلسن وویل: باید چی دوی د انگلیسی ژبی بنیادی او اساسی دلغاتو ذخیره ولری. باید چی دژبی مهارتی امتحان کی کامیاب شی او دا ثابته کړی چی دوی په انگلیسی ژبه کی خبری کولی شی او ددی ترڅنگ روزنه هم ښودلی شی-

دنلسن دوینا په ترڅ د افغان ملی پوځ ډیری سرتیری دکابل په نظامی روزنیز مرکز کی دانگلیسی زبی څخه فارغ شویدی- هغوی د انگلیسی ژبی موسسی سن انتونیو دیفنس ته دابتدایی روزنی مهارتونو لپاره سفر کوی او ځنی په هغو کی د بشپړه زده کړه او یوښه استاد جوړیدو لپاره تللی دی- کله چی هغوی بیرته د روزنی ښودلو لپاره راوگرځی, دهغوی اساسی دنده به دافغانستان د استادانو مرسته کول وی چی په راتلونکې کې هغوی هم ښه استادان وی ځکه چی هغوی د تعلیمی روزنه پرمخ بیایی-

نلسن وویل :باید دوی په نظم وی, باید دیرځیار وباسی او تمرکز وکړی- اوس دوی دي ځای ته ټاکل شویدي او دا د اته میاشتو لپاره ددوی دنده ده-

انگلیسی ژبه یوپرمخ تللی ژبه ده چی په ټول نړی کی ویل کیږی اود دیپلوماسی او تجارت کولو لپاره نړیواله ژبه ده- دا دهوای چلند نړیواله او یو رسمی ژبه هم ده-د ژبی د تقسیمولواو دسواد آموزی, ریس باربره گودنو په وینا د خلکوترمینځ چی په مختلف ژبو کی خبری کوی د هغوی په مورنی ژبو کی دا یو عام ژبه ده-

استانکزی وویل:انگلیسی ژبه یو نړیواله ژبه ده او که چیری وگوری اوس محال ټکنالوجی, ساینس او نوری ځنی شیان په انگلیسی کی دی -

پیما وویل: دا زمونږ د ژوند برخه ده, همداسی دا ضروری اوجبری ده چی انگلیسی زده کړی او د خپل ورځنی مشکلات حل کړو-

شاگردان په کامیابی سره کورس ترسره کړل اوداوسط نه زیاتی نمری واخستلی-د استادان او شاگردانو وفاداری سره افغانان د انگلیسی ژبی زده کړه لپاره هیله لری چی د انگلیسی ژبی زده کړی ته به ادامه ورکړی-

زمونږ دنده دلته د مشاورینو په توگه اود دوی مرستی لپاره وو چی دوی زده کړی او خپل په پخو باندی ودریږی- شاگردان او اداره فوق العاده دی-هغوی دی ته چمتو دی چی پروگرام پخپله پرمخ وړاندی یوسي-

نلسن وویل:دا دکامیابی ځای دی او زما لپاره شخصآ د یومشر په توگه ډیر د خوشحالی ځای دی چی دا ځوانان وینم چی په ډیر شوق او ذوق او کامیابی سره راځی او د انگلیسی ژبه په زده کړه کی شوق او ذوق ښکاره کوی--







پورته انځور چپ لاس. د الوتکه ماشین چالانول او د شهنواز نبی زاده د افغان هوای پیلوټ د لود ماستر په حیث د کابل نظامی هوای ډګر کی کار کوی هغوی یوه ساعت لپاره خپل مایرانه پرواز بغیر له ایتلافی قواو مر سته څخه پیل کړل

پورته انځوز ښی لاس ؛ دګروال ایمل پاچا د هوای ځواکونی قوماندانی او د پروازونو کنټرولکونکی وویل دا لمړی پروازد افغانانو لخواه دی، چی د ای ۲۷ الوتکه سره په ښه دول ترسره شول.

منځ انځور: تورن شهنواز نبی زاده د کابل نظمامی هوا ډګر لود ماستر



لاندنی انځور: تورن شهنواز نبی زاده لودماستر، جګړن نیک محمد د پیلوټ معاون او دګروال یمل پاچا د افغان ملی اردو هوایی قوماندانی کی هر یوه ته په کابل هوای ډګر کی دنده سپارل شوی وو دوی یوځای په کابل نړیوال ډګر کې خپل لمړی پرواز بغیر له مشاورین مرسته څخه ترسره کړل

# دافغان پیلوټانو لپاره په لومړی ځل د روزنیز چارې پیلیدل

راپور : ډګروال اګنیټا موران
دعامه اړیکودفتر۴۳۸د لیږدول شوی هوایی قواه

کابل –افغانستان- دجولای ۱۹نیته, د۲۰۱۲ کال کی د سی-۲۷ ای لومړنی پیلوټان, لوډماستر اودپروازنو مهارتونو دعملیاتی روزنیز، د کابل نړیوال هوایی ډګر کی دیوساعت لپاره روزنه ترسره شو.
دافغان هوایی ځواک قوماندان ,ډګروال اجمل پاچا وویل :لومړی مشاوران د الوتکی په پروازونو کی مونږ سره مرسته کولي –هغوی مونږته ډیرشیان وښودل, دافغان هوایی ځواک د کابل هوایی ډګردنده دالوتکو قوماندان اوهمدا رنګ د ۲۷ هوایی قواوو د ډلګی قومندان ته وسپارل شو- اوس مونږ ازاد یو او کولی شو چی مونږ پخپله الوتکی ته پروازونه ورکړو.
د۵۳۸ هوایی عملیاتومدیر اودهوایی ډلګی مشاور دګرمن دیوید والر وویل: دالواتکی دپیلوټانوغړی دی حد ته د ر سیدو لپاره روزنه ترسره کړل اوپه پایل کی د پروازونو له پاره د خپل مهارتونو ښخه کار واخیستل - په دی روزنه کی دپیلوټانو لپاره په سلګونو د اکیدمی زده کړی,الوتکی حادثی,دالوتنی روزنی سلاح مشوری او د الوتکی د الوتنی نوری ګڼ شمیر روزنی شامل وو-
په دی روزنه کی دلوډرماستر,د دینامیک الوتکی محدودیت سره موازنه, دعملیاتو لوډنګ,دمسافرو کنترولول اودفارک لفټ تصدیقونه مو ترلاسه کړل- مشاورین لوډماسترانوته د لوډ انجینیری لقب ورکړل ، ځکه چی هغوی دځمکنی پرواز دسیستمونودچیکولو روزنه اوهغه ټولی طریقی چی هغوی په نورماله توګه د الوتکی د انجنیرانوښخه ترسره کړی وو هغوی دالوتکی انجنړان یادیږی –داپه رښتیا ډول زما لپاره یوښه فرصت به یی چی زه دافغانستان دخلکو دمرستی لپاره وظیفه تر سره کړم .
مونږډیر مودی لپاره مطالعه وکړل اودی کام ته د رسیدو لپاره مو ډیرروزنی ترسره کړل او په پایل کی ددی وړښو چی د مشاورین دمرستی ښخه پرته الوتکه هلوځوو- دا خبره دافغان دهوای ځواک تورن شاهنواز نبی زاده وویل .

د ای-۲۷- سی لوډماستردکابل هوایی دګر ځانګه اود دري کسیزه پیلوټانو الوتکی ځانګی ته وسپارل شو او د الوتکی پرواز په بریالیتوب سره ترسره شو همدارنګ دا دافغانانو اود افغان دهوایی ځواک ټولوپرسونل لپاره دویاړورده –

مخکی له خپلواکی ښخه دالوتکی هر یو فنی غړی دایتلافی مشاورینو په ذریعه په انفرادی توګه څیرنه وشول-
والر وویل:دغه ورځ دافغانستان دهوایی ځواکونو لپاره یوواقعی عطف نقطه ده. د افغانستان دهوایی ځواک دپروازکولو لومړی او جګ روزنه یی ترسره کړل, اوس پیلوټان دافغانستان دستر خلکو لپاره د بشری مرستی اودهغوی ساتنه کوی.دا دویاړ ځای ده چی د پرواز کولو په دی تاریخی چارو کی د ډګروال پاچاسره مو پرواز وکړل.زه په دی دري ستروشخصیتونو باندی فخرکوم چی ددوی دفداکاری په وجه داورځ په رښتیاواقعیت ته بدل شو.

د۲۰۰۹میلادی کال په پای کی دهوایی کرښی دپرمختګ لپاره, دپرسونل اود تجهیزاتو د ورلولپاره لومړی الوتکه دافغان هوایی ځواک ته معرفی شو.دغه الوتکی د ۱۰۰۰ متره ارتفا نیسی.

کله چی لومړی الوتکی ته انتقال ورکړل دایتلافی او دافغان پیلوټان په ګډه همکاری ترسره شو.دافغان پیلوټان او د هغوی مشاورین دی دمی ته د رسیدو لپاره ډیرستونځو سره لاس اوګریبان وو او که څه هم دوی په ډیر چټکی سره دغه روزنه په شپږو میاشتو کی ترسره کړل.

کله چی هریوالوتکه خپل موقعیت ته دراستنیدولپاره پیل کړل نو الوتکی دساتنی اودکنټرولولو اداری ښخه څیرنه وشول, د مسافرینو, کارګو او د پرواز کولو لپاره پیلوټان او مشاورین ډیر ځیار وویستل- ضابط جارود سباستین وویل:د توقف په دوران کی مونږ دالوتکی دپرواز کولو یو ځو ډول روزنی مو پرمخ ویوړل, دافغان هوایی ځواک او مشاورین دواړو د هوانوری مسلکی زده کړه په چټکی سره پرمخ ویوړل ، سباستین زیاته کړل چی هریو لوډماستر په ځمکه باندی دمختلف او مهم کارنو څیرنه کول چی هغوی دوی ته په څه ډول د مشکلاتو ځواب ورکوی-

دا لومړنی پرله پسی موقع ده چی په دی کی پیلوټان تجربه لاس ته راوړی او دافغان د هوایی ځواک نورو پیلوټانوته روزنه ورکړی.

دافغان هوایی ځواک غړی ددی لیوال دی چی د خپل هیواد ښخه ملاتړ وکړی او دا د افغانستان د خلکو لپاره د ویاړ ور دي.

نبی زاده وویل :هغه هر څه چی مونږ د یوکسیزه پرواز روزنه کی زده کړل هغه ټول زمونږ لپاره ډیر ګټور وو, دا وجه ده چی پرته د کوم ستونځی ښخه الوتکی ته موپرواز ورکړل.مونږ په راتلونکی وخت کي خپل تاکتیونه نوروته روزنه ورکوو-



# د افغانستان په لویدیځ کې د ایساف سیمه ییزه قوماندانی

راپور: د امریکا د متحده ایلاتو سمندری ځواک افسر بنجامین ایډیسن

فراه – افغانستان- (جولای۲۰۱۲,۲۸ میلادی)-د فراه ولایت د ولایتی بیارغونی ټیم غړی دفراه افغان دولتی مقامات ته د پنجشنبی په ماښامی کی د فراه په عملیاتی مرکز کی دروژی افطار لپاره بلنه ورکړل- دفراه د بیارغونی ټیم قوماندانی افسر,دامریکامتحده ایالاتو د سمندري ځواک قوماندان تامس شیپرډ او دامریکا د متحده ایالاتوداداری استازی نانسی ابیلا, د فراه ولایت والی داکتر محمد اکرم خپلواک ته او همدا رنګی د سیمه ییزه غونډی غړی, دمذهبي چارو رئیس او دفراه ولایت د عملیاتی مرکز دستری محکمی رئیس ته د د روژی مبارکی په ماښامی کی افطارکولو کی ونډه اخیستلو لپاره هرکلی وویل.د سیمه ییزو ارګانونوخپلواک اداری رئیس او د سولی د ولایتی شورا استازی هم د درانه او نامتو میلمانه سره په افطاری کی ګډون کړی وو-

ښاغلی ابیلا وویل: چی زمونږ او د دوی لپاره دا دکال یوډیرمهم او معنوی موخه ده , دا زمونږ لپاره ډیر د ویاړاو د قدروړ ده چی مونږ سره ټول دنن ډوډی کی ګډون وکړل,زما په انډ کې دا زمونږ لپاره یوه ډیره ښه موقعی وو چی دوی ته وښایو چی مونږ ستاسو لپاره ډیر احترام لرو او ما په رښتیا دوی ته وویل غوښتل چی مونږ د دوی د مبارکی میاشت لپاره ډیرعزت او احترام لرو. پرته د افطار کولونه مونږ دوی سره کومه بله مقصد یا اجندا نه درلودل- په دی ورځ مونږ ټولو ته افغانی ډوډی وړاندی کړل ځکه دکال دا موخه ددوی لپاره ډیره مهمه ده, زما په انډ په دی ټول پوهیږی - کله چی د لمونځ وخت وشوټول لمونځ وکړل, پس لمانځه دوی ټول له مونږ سره په ګډه افطار وکړل او زه دی وخت کی دیر دتاثیر لاندی راغلی ووم-

ښاغلی شپرډ وویل: ما غوښتل چی په دی کی ګډون وکړم ترسو دافغانستان د کلتور په اړه په ښه توګه پوه شم- د دوی دمذهب برخه دپام کولو وړ دی او مونږ ټول دکار د فشارځخه آزاد په یو ښه ماحول کی د دوستانوسره مویوځای خوند اخیستل او دا زمونږ لپاره یوه ډیره مهمه موقعی وو-

د ابیلا د وینا مطابق خواړه به عنعنوی ډول افغان اشپزانو پوخ کړی وو.د خوراک په لست کی د وزه غوښه, دچرګی غوښه,وریجی,ډوډی,سبزي او منې وو.

دامریکا د متحده ایالاتودلویدځ ځانګړی عملیاتوضربتی ځواک, تورن اوټی مدینه په دی موقع کی هماهمنګی وکړل. مدینه وویل: دا زمونږ د یووالی لپاره یوه ښه موقعی ده چی یوځای شو او خپل افغان همکارانو ته ښکاره کړو چی د ددوی خدمتونه زمونږ لپاره د قدروړ دی, کوم چی دوی دخپل هیواد لپاره کوی اومونږ غواړو چی دافغانستان کلتوری چاری جوړښت په ښه توګه وپیژنو, که چیری مونږ لرډیرهم دافغانانو دکلتوری چارو په اړه پوه شو,مونږ یومنسجم ټیم جوړیدی شو-

دولایتی بیارغونی ټیم دا دنده ده چی دافتصادی چاری پرمختګ او اغیزناکه دولتی چاری د ولسوالی , ښاروالی او د ولایات په کچه د فراه ولایت ملاتړکوی او دافغانستان اسلامی جمهوریت په اجازه د فراه ولایت خلکو لپاره بنیادی دندی او اسانتیاوی برابره وی

ښاغلی ابیلا وویل: دراتلو په وخت ټول ډیرخوشحال ښکاریدل- یوه ډیره عالی غونډه وه- مونږ سره د سیمه ییزه غونډی غړی, والی او د هغه پرسونل, د سیمه ییزه غونډی پرسونلان چی په داسی شرایطونو کی د لوړپوری شخصیتونو سره ډیر ګدون نه کوی هغوی هم په دی غونډه کی له مونږ سره ګډون کړي وو– مولوی روحانی صاحب د مذهبی چارو رئیس زمونږ ډیر خاص میلمه وو- د نړیوالوځواکونو د همکاری په اړه همیشه مثبت خبری کوی او زما په انډ دهغه یوبل ښه مثال دا دی ,کله چی هغه د نورو مولویانو سره غږیږی ,هغوی ته خپلی خبرو کی دا ښایی چی مونږ د افغان هیواد والو سره ریښتونکی اړیکی لرو.



ننسی ابیلا د امریکا متحده ایالاتو د دفاع وزارت استازی او د فراه ولایتی بیارغونی ټیم، د فراه ولایتی چاړواکو، استازی د روژی مبارک میاشت په یوافطاریه کی هرکلی وکړ، افطاریه د روژی مبارک میاشت کی سنت دی او ځوک چه روژه لری افطار کوی.

# د عامه  تاسیساتو ساتنی او د امنیتی تصدی معنیت د افغان نوی ساتونکي دی

راپور - د ناټوروزنیز ماموریت د عامی اړیکو دفتر. سرا سامانتا کواسکی

کابل- د عامه  تاسیساتو ساتنی او د امنیتی تصدی معنیت مهم دنده د خصوصی بانکونو او شرکتونو ساتل دی. که څه هم دا معنیت پنځه میاشت وړاندی خپل کار پیل کړل خو هغوی د افغان او د نړیوال قرارگاه ساتنه کوی.

یوه کلیدی برخه دا دی چی د پرختیا پروژو او قطار لیږدول امنیتی مسولیت په ټول هیواد کی د خصوصی شرکتونو څخه د عامه ساتنی تاسیساتو پر غاړه لری.

د جون په ۴ نیټه د ۲۰۱۲ میلادی کال د عامه ساتنی تاسیساتو غړي شاوخواه ۱۶،۰۰۰کسانوته رسیدلی دي چی ۶،۰۰۰ کسان یی د عامه ستاتنی تاسیساتو کارکونکی دی او ۶،۰۰۰ کسان یی د خصوصی شرکتو څخه د عامه ساتنی تاسیساتو څخه لیږدول شوی دی د دی هدف دا دی چی د روان میلادی په۲۰۱۳ کال پوری۳۰،۰۰۰ کسانو ته  ورسیږی.

دا څواکونه د ۲۰۱۱ میلادی کال راهیسی د افغانستان بیزونو د امنیتی ساتنی لپاره روزل شوی دی. د عامه ساتنی تاسیسات قواه د پرمختک په لور راون دی او دوی د عملیاتو توان  په ټول هیواد کی لری همدارنگه دا څواکونه د ټول پوځی،شخصی شرکتونو او د بانکونو امنیت پرغاړه اخیستی دي.

د روزنی پرمهال ساتونکی څو بیلابیله صنفونوته د خپل دفاعی روزنی لپاره واستول شول د قوانین پوهیدل، د گرفتاری طریقه، تلاشی، دلاسونو تړل( ولچک) کول، د مخابری څخه کار اخیستل، د سقیله وسلو لارښودنه، اولیه مرستی، پولیسی تکتیکونه، اسلامی چاری، د لاس رسی سیمه پوهیدل، د وسایطو تلاشی ، د اطفاییی مقدماتی، د سرک پرغاړه ماینونو او د چاودیدونکی ټوکو موندل زده کوی.

دا روزنی د عامه ساتنی تاسیساتو هرورځ د کارونو مهارتو لپاره ضروری دی. کله چه دوی دا روزنی تر سره کړل دوی کولی شی د بانکونو او شخصی شرکتونو امنیت ټینگ کړی او د افغانانو امنیت ساتنه لپاره کوښښ کوی.

د عامه ساتنی تاسیساتو دنده دا دی چی د بانکونو او شخصی شرکتونو ساتنه وکړی. سید ولید وویل: بانکونه او شرکتونه ډیر ساتونکی لری کله چه کوم بانک یا شرکت ساتونکو ته ارتیا لری دوی د ملی دفاع وزارت ته درخواست استوی او د د ملی فاع وزارت د کورنیو چارو وزارت ته پیشنهاد کوی بیا مونږ خپل ساتونکی بانکونو او شخصی شرکتونو ته استوو.

د عامه ساتنی تاسیساتو قواه د پرمختک او حرفیوی کیدلو خواه ته راوان دی، دا قواه د افغانستان دخلکو او دحکومت اعتماد تر لاسه کوی. دا ډیر مهم دنده دی چی د افغانستان روښانه راتلونکی په هیله اود افغانستان پرمختک او پانگه اچونی ته ادامه ورکړی.

د عامه تاسیساتو بریالیتوب د هغه کسانو په لاس کې دی چی هغوی خدمت کوی.د دی ټولنی ټرټولو لوړ داوطلبانه توکه خپل دنده ډیر په جدی ټوگه سرته رسوی.

محمد ولید عزیزی د عامه تاسیساتو د بریدملانو نوی قوماندان دی. هغه جدی کوښښ کوی، که چیری کوم ستونځه په عامه ساتنی وی هغه حل کړی.

محمد ولید وویل: زما مهم دنده دا دی که چیری کوم بریدمل ستونځی ولری د حل لاړه ورته پیدا ونکړی هغوی ما ته خپل استونځه وایی او زه ورته د حل لاړه لټه وم او ستونځی ورته حلوم.

محمد ولید خپل ایتلافی مشاور ظابط سامیل تونیز ته وویل زه د بریدملانو ارشد قوماندان او د وزارت مشاورمرستیال په ټوگه دنده ترسره کوم.




محمد ولید عزیزی د بریدملانو څانگړ قوماندان او د هغی مشاور ضابط سمویل نونیز د محمد ولید غوښنتی په اړه دعامه ساتنه تاسیساتو لپاره خبری کولی، ولید د رهبر په ټوگه د عامه ساتنه څواکونو کی دنده تر سره کوی


په افغانستان کی دنا ټو روزنیز ماموریت د عامه اړیکو دفتر
قوای هوائی افغانستان
http://ntm-a.com/wordpress2/archives/category/uncategorized/pashto